د افغانسـتان اسـلامي امـارت

د مخـابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

څېړنې او پراختيا عمومي رياست

څېړنې او نوښت رياست

# د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې بدلونونه او پرمختګ

(مياشتنی لنډ راپور)

1404/8/29

ګڼه: R&I-D-08-R-1404

# لړلیک


سریزه ..................................................................................................................... 2
عمومي موخه ................................................................................................................ 3
موضوعات.................................................................................................................... 4
۱.مصنوعي ځیرکتیا (Artificial Intelligence AI)........................................................................ 4
1.1 د AI په مرسته دپیرودنکو لپاره دنوی وسایلو اخیستلو د (OpenAI) او (Perplexity) نوي طریقه.................... 4
2.1 ګوګل د ځواکمن کوانټم ټکنالوجۍ د نویو کارونو لپاره د انګلستان هېواد څخه د متخصصینو مرسته غواړي.............. 5
3.1 (Intuit) شرکت د-AI په برخه کې د مالي مدیریت لپاره یو نوی پلیټفارم معرفي کړی ................................ 5
۲ - نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجۍ او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets) ................................ 7
1.2 چین هېواد کې د (CH-YH1000) په نوم د کارګو بې‌پیلوټه الوتکې بریالۍ آزمایښتي الوتنه ....................... 7
2.2 په متحده ایالاتو کې د سایبر امنیت اکاډمی د جوړولو عاجله اړتیا ............................................ 8
سرچینې (References)...................................................................................................... 9

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاه والسلام على سيد المرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.

## سریزه

ټکنالوجۍ او نوښت د هیوادونو په وده کې مهم رول لوبوي. د انسانانو په لاس د ټکنالوجۍ پرمختګ د اوږدې مودې راهیسې په دوامداره توګه وده کړې ده. هر کال موږ د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندېدو خبرونه اورو. د نن ورځې ټکنالوجیو سره آشنا کیدل ممکن د حکومتدارۍ، ډول ، سوداګري یا آن زمونږ د ژوند د ډول بدلولو پریکړه وکړي. ټکنالوجۍ یوه ډالۍ ده چې زموږ نړۍ پراخه، اسانه او ډیر په زړه پورې کوي. هر څه چې زموږ لپاره یو خوب دی، کیدای شي چې یوه ورځ د ساینسي پرمختګونو او د نویو ټکنالوجیو د راڅرګندیدو له امله په واقعیت بدل شي.

په وروستیو لسیزو کې، ټکنالوجیکي پرمختګونو او اړوندو بدلونونو په نړیوالو بازارونو، حکومتونو او ورځني کارونو باندې لوېې اغیزې کړې دي. دا پرمختګونه د ډیجیټل حکومتولۍ، د معلوماتو امنیت، څېړنې او پراختیا، د معلوماتي ټکنالوجۍ نوښتونه، د مخ پر ودې ټیکنالوجیو او نورو معلوماتي ټکنالوجیو سکتورونو په شمول په مختلفو برخو کې پیښ شوي دي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د یوازیني باوري مقام په توګه د ټکنالوجۍ په برخه کې هڅه کوي چې د نویو ټکنالوجیو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ د څېړنې ودې او د تخنیکي او مخابراتي فعالیتونو د پراختیا په موخه د دې وزارت په چوکاټ کې د څېړنې او پراختیا عمومي ریاست تاسیس کړی. په اوسنۍ نړۍ کې د ټکنالوجۍ د چټک او هراړخیز پرمختګ له امله، دا ځانګه ژمنه ده چې د نویو ټیکنالوجیو اړوند ټولو اړخونو ته بیاکتنه او ارزونه یې وکړي. دا وزارت پروګرامونه او ستراتیژیانې جوړوي او پلی کوي یې ترڅو له نویو ټیکنالوجیو سره معرفت او بلدتیا ولري او په اغیزمنه توګه یې د هیواد خلکو ته وړاندې کړي.

دغه ریاست د نویو ټکنالوجیو د پوهاوي په موخه په بیلابیلو لارو چارو غور کړی دی. دا وزارت هڅه کوي چې د ساینسي سرچینو، تحلیلي مطالعاتو او تخصصي راپورونو د بیاکتنې له لارې د مخ پر ودې ټیکنالوجیو پیژندلو او پلي کولو هڅه وکړي. دا ریاست د خپلو څېړنو له لارې هڅه کوي د نوی ټکنالوجیو د فعالیت امکانات هم وڅېړي. د اړوندو څېړنو په ترسره کولو سره، دا یقیني کوي چې نوې ټکنالوجۍ په ریښتیني شرایطو کې د اغیزمن فعالیت کولو وړتیا لري او که نه.

د دې ټولو هڅو او فعالیتونو سره د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجۍ وزارت په هیواد کې د ټکنالوجۍ په پرمختګ کې مهم رول لوبوي. د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجیو په برخه کې د نویو ټکنالوجیو پوهه د اړوندو صنعتونو په پراختیا کې، خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو، او د ټولنې د معلوماتو د کچې په لوړولو کې ډیره مرسته کوي.

## عمومي موخه

په عقرب میاشت کې د معلوماتي ټکنالوجۍ د نویو بدلونونو او پرمختګونو په اړه پوهاوی او د هغو شریکول د وزارت له محترم مقام سره.

فرعي موخې

دا راپور لاندې فرعي موخې لري:

- ✓ د نویو ټکنالوجیو معرفي کول او ورسره آشنا کیدل
- ✓ د نویو ټکنالوجیو د اغیزو ارزونه او تحلیل
- ✓ په افغانستان کې د دغو نویو ټکنالوجیو د منظم استعمال لپاره حل لارې او وړاندیزونه

## موضوعات

د مصنوعي ځيرکتيا په برخه کې نوې پرمختګونه

### ۱.مصنوعي ځيرکتيا (Artificial Intelligence AI)

مصنوعي ځيرکتيا(AI) په هره برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. دلته د عقرب مياشتې د پام وړ پرمختګونو باندې بحث کوو.


### 1.1 د AI په مرسته دپېرودنکو لپاره دنوی وسایلو اخیستلو د (OpenAI) او (Perplexity) نوي طریقه

اوس پیرودونکی کولای شې د (OpenAI)او (Perplexity) دواړو د خپلو چیټبوټونو دننه د AI سوداګريز معاونت نوې بڼې اعلان کړې، چې کاروونکو ته د محصولاتو د پلټنې، پرتله کولو او وړاندیزونو کې مرسته کوي.

(OpenAI)کاروونکو ته اجازه ورکوي چې د مثال په توګه له (ChatGPT) څخه وپوښتي: «یو نوی لپټاپ چې د ګیم کولو لپاره مناسب وي، له ۱۵ انچو څخه لوی سکرین ولري او تر ۱۰۰۰ ډالرو کم وي»؛ یا د لوړ کیفیت داسې نور وسایل شریک کړي او ورته بل ارزانه قمتی انتخاب وغواړي، همدارنګه په ورته وخت کې، (Perplexity) د خپل چیټبوټ د حافظې ځانګړتیا وړاندې کوي، چې د کارونکي د معلوماتو (لکه د اوسېدو ځای یا دنده) پر اساس ځانګړي وړاندیزونه ورکوي، تر څو د پیرودنکو شخصي شي نظرياتو ته اولیت ورکړي.

(Adobe)وړاندوینه کړې چې د AI په مرسته آنلاین وسایل اخیستل به د دې وختونو کې ٪۵۲۰ وده کړي، چې د(Phia) ، (Cherry)یا (Onton)پخوانی (Deft) په څېر AI سوداګريز شرکتونو لپاره یو فرصت دی. خو د دې سره، د (OpenAI) او (Perplexity) پرمختګ ممکن کوچني متخصص شرکتونه ته ننګونې جوړې کړي.

(Zach Hudson)، د (Onton) اجرائیوي رئیس، تینګار کوي چې ځانګړي تخصصي AI شرکتونه به لا هم وده وکړي، ځکه عمومي چټ باټونه لکه (ChatGPT) او (Perplexity) یوازې د موجوده لټون فهرستونو لکه (Bing) یا (Google) پر بنسټ کار کوي. [1]



*انځور ۱: د AI په مرسته دپېرودنکو لپاره دنوی وسایلو اخیستلو د (OpenAI) او (Perplexity) نوي طریقه*


### 2.1 ګوګل د څواکمن کوانټم ټکنالوجۍ د نویو کارونو لپاره د انګلستان هېواد څخه د متخصصینو مرسته غواړي

ګوګل اعلان کړی چې له انګلستان هېواد سره د همکارۍ له لارې څېړونکو ته زمینه برابروي څو د خپل پرمختللي کوانټم چپ **(Willow)** لپاره نوې او اغېزمنې لارې پیدای کړي، دا اقدام د هغو هڅو برخه ده چې د څواکمن کوانټم کمپیوټر د جوړولو لپاره روانې دي، هغه ټکنالوجۍ چې د کمپیوټر د راتلونکي یوه نوې حیرانونکی نوښت بلل کېږي.

څېړونکي هیله لري چې د کوانټم کمپیوټینګ په مرسته به وکولای شي د کیمیا، طب او ورته نورو برخو هغه ستونزې حل کړي چې د اوسنیو کمپیوټرونو له وسه وتلې دي. د سوري په نوم پوهنتون پروفیسور پاول ستیونسن دا نوښت د انګلستان د څېړونکو لپاره مهم او مثبت ګام وباله او ویې ویل چې دا همکاري به هغوی ته ځانګړی علمي فرصت برابر کړي.

د ګوګل او د انګلستان هېواد د ملي کوانټم لابراتوار ترمنځ دا همکاري به ډېرو څېړونکو ته د دې پرمختللې ټکنالوجۍ لاسرسی ممکن کړي، او په بدل کې به ګوګل هم د انګلستان د پوهانو له علمي ورتیاوو ګټه واخلي.

که څه هم کوانټم کمپیوټرونه د دودیزو کمپیوټرونو په پرتله په بشپړ ډول په بېلابېل بنسټونو کار کوي او لا یې بشپړ عملي ظرفیت نه دی څرګند شوی، خو تمه ده چې د (Willow) چپ ته لاسرسی به د واقعي نړۍ لپاره نوې او ګټورې کارونې را برسېره کړي، څېړونکي به خپلې علمي طرحې وړاندې کړي او د ګوګل او انګلستان هېواد د کوانټم لابراتوار له متخصصینو سره په ګډه به ازمایښتي پروژې پر مخ وړي. [۲]



*انځور ۲: اروپا د ستارلینک بدیل د جوړولو لپاره مهم ترون وکړو*


## 3.1 (Intuit)شرکت د-AI په برخه کې د مالي مدیریت لپاره یو نوی پلیټفارم معرفي کړی

(Intuit)شرکت د خپلو کاروونکو او حسابداره شرکتونو لپاره یوه نوې پلیټ فارم معرفی کړې چې د مصنوعي ځیرکتیا (AI) پر بنسټ ولاړ ټول معلومات په یو (All-in-One) پلیټفارم کې ترتیب کړی، چې موخه یې د مالي چارو ښه مدیریت، ساده او گړندی کول دي، د شرکت اجر ائیوي رئیس(CEO) ، ساسان گودارزي ویلي دي چې دا نوښت د (Intuit) شرکت په تاریخ کې تر ټولو ستر ټکنالوژیک بدلون دي او د کارونکو د ودې او سیالۍ تګلاره یې په بنسټیز ډول بدله ده. نوموړي زیاته کړه چې دغه پلیټفارم د حسابدارانو لپاره ځانګړی، د AI محورحل او د منځنی کچې کارونکو لپاره یو پرمختللی (ERP (Enterprise Resource Planning سیسټم وړاندې کوي.

اوس مهال ډېری کارونکی اړدي چې د خپلو ورځنیو چارو د سمبالښت لپاره له ۷ تر۲۵ پورې بېلابېل اپلیکیشنونه وکاروي، چې دا چاره د معلوماتو د ګډوډۍ لامل گرځي او د مصنوعي ځیرکتیا د اغېزمنو پایلو مخه نیسي دغه نوې پلیټفارم ټول معلومات په یوه واحد سیسټم کې راټولوي او د AI مجازي ټیم ته لاسرسی بر ابروي، تر څو د مشتریانو مدیریت، تادیاتو، معاشاتو، حسابدارۍ او مالیاتو په برخه کې هر اړخیزه مرسته وکړي.

مشتریان کولای شي هر ډول پوښتنه مطرح کړي، لکه: « زما معاشات اجرا کړه ؟» یا «زما اټکل شوې گټه څومره ده؟» او په فوري ډول دقیق معلوماتي د دغه پلیټ فارم څخه په ځواب ترلاسه کوی.

د (Intuit) شرکت نوی پلیټفارم د معلوماتو، مصنوعي ځیرکتیا او انساني پوهې د هوښیار ترکیب له لارې کارونکو ته د سیالۍ نوی ځواک او عملي حل‌لارې بر ابروي، ترڅو وکولای شي خپلې مالي چارې په چټک، دقیق او اغېزمن ډول مدیریت کړي او دوامداره وده وکړي. [3]




*انځور ۳: (Intuit)شرکت د-AI په برخه کې د مالي مدیریت لپاره یو نوی پلیټفارم معرفي کړی*

## ۲ - نوی راڅرګندیدونکي ټکنالوجۍ او وسایل (Emerging Technologies & Gadgets)

په هره میاشت کې مونږ د نویو ټکنالوجیو او وسایلو د رامینځته کیدلو شاهدان یو،دلته د عقرب میاشتې د ځینو نویو ټکنالوجیو په اړه بحث کوو.

### 2.1 په چین هېواد کې د (CH-YH1000) په نوم د کارګو بې‌پیلوټه الوتکې بریالۍ آزمایښتي الوتنه

**د چین د فضايي هو ايي قوې د بې‌پيلوټه الوتکو اکاډمۍ د (CH-YH1000) په نوم د خپلې نوې کارګو بې‌پيلوټه الوتکې لومړنۍ ځل په بریالیتوب سره آزمایښتي الوتنه ترسره کړه. دا الوتکه د باروړلو لپاره دوديز ايرودیناميکي ډيز اين(د هوا د جريان د اصولو پر بنسټ جوړشوی ډيز اين ) لري، د دوه انجنونو په وسيله چلېږي او د 1.2ټنه بار د لېږد توان لري ، دا الوتکه تر ۱۵۰۰ کيلومترو پورې الوتنه کولی شي او شاوخوا ۱۰ ساعته په هوا کې پاتې کېږي او له لنډو او غير معياري (Runways)ځغاستليکونو څخه هم د الوتنې او ناستې وړتيا لري.**

**کارپوهان وايي، دا بې‌پيلوټه الوتکه د ښاري اولرې پرتو سيمو ترمنځ د ارزانه او اغېزمن لوژستيکي خدماتو لپاره مهمه وسيله ده، چې په ځانګړي ډول به د چين په مرکزي او لوېديځو کم‌پرمختللو سيمو کې د توکو رسونه اسانه کړي. د خپلواکو الوتنو سيستم له امله، دا الوتکه کولی شي د ورځې او شپې په هروخت کې فعاليت وکړي او د چين د ترانسپورټ او ټيټ ارتفاع اقتصاد د پياوړتيا لپاره مهم رول ولوبوي.[۴]**




*انځور ۴: په چین هېواد کې د (CH-YH1000) په نوم د کارګو بې‌پیلوټه الوتکې بریالۍ آزمایښتي الوتنه*

### 2.2 په متحده ایالاتو کې د سایبر امنیت اکاډمی د جوړولو عاجله اړتیا

د انټرنیټ امنیت اتحادیه (ISA) په وینا، د متحده ایالاتو لپاره عاجل اړتیا ده چې یو مجازی سایبر امنیت اکاډمي جوړه کړي، ترڅو د ملي امنیت لپاره دسایبری حملی دفاع کوونکي وروزي.

د ISA اتحادیې په وروستي تازه معلوماتو کې راغلی چې د دوی د ملی دفاع سایبر ګواښ پر زیاتیدو دی، ویل شوي چې فدرالي حکومت باید هغه هوډ او ژمنتیا وښيي چې د دویم نړیوال جنګ په پای کې یې متحده ایالات د فضایي ځواکونو اکاډمي د جوړولو پر مهال وښوده، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هېواد ته روزل شوي کسان شتون لري چې په نوې هوايي جګړه کې یې دفاع وکړي.

ISAاتحادیه ټینګار کړی چې نن ورځ، متحده ایالات له یوې ورته جدي کمښت سره مخ دی، دا ځل د ډیجیټل جګړې په برخه کې دغه هېواد د هرې مهمې بنسټیزې برخې، د ښه تمویل شوي هیوادونو له خوا پرلپسې سایبر بریدونو سره مخ دی، او موږ هغه کافي روزل شوي کارکوونکي نه لرو چې د حکومت او خصوصي سکتور سیستمونه وساتي.

راپور څرګندوي چې که څه هم په سایبر امنیت کې د پام وړ پانګونه شوې، خو د کار ځواک کمښت دومره جدي دی چې په ټوله هېواد کې شاوخوا ۵۰۰،۰۰۰ تر ۷۵۰،۰۰۰ پورې سایبر امنیت خالي پوستونه شتون لري، چې پکې شاوخوا ۳۵،۰۰۰ پوستونه یوازې د فدرالي حکومت لپاره خالي دي.

ISAاتحایه ټینګار کوي چې متحده ایالات باید د دویم نړیوال جنګ وروسته ښودل شوې عاجلې عمل ته ورته عاجلتیا وښيي. که څه هم ځینې حکومتي پروګرامونه شته چې د سایبر امنیت روزنې لپاره د حکومت خدمت ته وده ورکوي، لکه څنګه چې د مجازي اکاډمي پلان لري، خو دغه پروګرامونه ډېر کم دي. موږ باید دا ستونزه په پراخه کچه حل کړو. [5]



*انځور۵: په متحده ایالاتو کې د سایبر امنیت اکاډمی د جوړولو عاجله اړتیا*

## سرچينې (References)


[1] https://techcrunch.com/2025/11/25/openai-and-perplexity-are-launching-ai-shopping-assistants-but-competing-startups-arent-sweating-it/

[2] https://www.bbc.com/news/articles/c2epm0w0zggo

[3] https://www.technewsworld.com/section/computing

[4] https://global.chinadaily.com.cn/a/202505/24/WS68310edfa310a04af22c146e.html?

[5] https://www.technewsworld.com/story/alliance-calls-for-cyber-u-to-stem-tide-of-nation-state-attacks-180035.html